AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۱/۰۶/۲۹

# الینګار، یوه ولسوالۍ او څو خاطرې



داسې مې یاد شي لکه یو ډېر پخوانی خوب. ما لا ښوونځي ته د تګ عمر نه و پوره کړی. ټوله ورځ به خپل کلي کې سترې ستومانه او د دنیا له حاله ناخبره ګرځېدم او له هرې لحظې مې خوندونه اخیستل. خو له ما مشر ورور مې (چې اوس یې له نوم سره د شهید کلمه اضافه شوې) د ابتدایه ښوونځي زده کوونکی و. ښوونځی یې د ولسوالۍ په مرکز کې و او تر دې ځایه زموږ له کلي شاوخوا شپږ کیلومتره واټن دی.

په هغه ورځ مې همدا ورور له ټاکلي وخت مخکې او وارخطا راغی. رنګ یې الوتی و او داسې خولې و لکه ګرمه تبه چې یې تیره کړې وي. کتابونه یې د کوټې منځ کې خطا کړل او بیا یې ویل: ټول خلک مړه شوي!
نور یې د خبرو وس نه درلود، هرچاته یې په ډکو سترګو کتلې. لکه زړه کې چې یې ډېرې کیسې وي؛ خو ژبه یې کار نکوي.

دا نو د غویي د کودتاه لومړي کلونه و. د ولسوالۍ د فتحې لپاره شدیده جګړه شوې وه. پریمانه انسانان په جسدونو بدل شوي وو. هغه کسان چې مخکې یې له نازه قدمونه اخیستل، د سړک تر غاړو په خپلو وینو کې پراته وو.

***



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**د مړو په منځ کې،**

یو خپل مو سرتیری و. سرتیري، لکه اوسني اربکي، کلیو کې اوسیدل. کلیو کې یې پوستې وې او د حکومت لخوا یې اکمالات کیدل.

دی په یوه پوسته کې و او پوسته برج کې وه. کیسه یې کوله: یو ناڅاپه د برج منځ ته د اور غونډارۍ راولویده. همداسې ځای په ځای تاویده، ما او دوه نورو ملګرو ورکتلي خو د تیښتې ځای نه و. شیبه وروسته ډز شو او بیا هله په ځان پوه شوم چې د ولسوالۍ په مرکز کې یې راته ټپونه پانسمان کړل. دا د هاوان مرمۍ وه چې هغه دوه نور ملګري یې راته ځای په ځای وژلي وو. هغه وخت جنګي شرایط وو. نه سم ډاکتران و او نه سم درمل. د کپسولونو پوډر به یې له واسیلنو سره ګډ کړل، ټپونه به یې پرې غوړ کړل چې ډیر وخت به زخمونه وراسته شول. د بیهوښه کولو لپاره درمل نه و، موږ به خپلو ټپونو ته کتلي او روغتیایي کارکوونکیو به پکي تیغونه ګرځول.

اوله شپه له ډیر درده خپله بیهوښه شوی وم، یو وخت چې ویښ شوم شاوخوا رانه نور کټونه ایښي و او سپین رخت پرې هوار و. دا ټول مړي و، لکه چې زه یې هم د مړو کتار ته برابر کړی وم. د دوی په لیدلو وډار شوم او په ټپي ځان مې ټوپ کړ او تر یو ځایه لاړم.

***

**لاش خوړونکي سپي،**

د ولسوالۍ د فتحې لپاره بیا شدیده جګړه شوې وه. په هر ګام کې له دواړو خواوو او د عامو وګړو مړي پراته وو. د جنګ شدت ځوک ښخولو ته نه پریښودل. بازاري سپي پرې له ولږې اموخته شول او په هډونو به یې ورته داړې خښولې.

کیسه مې اوریدلې وه چې له جګړې وروسته کوم ستړی بزګر تر ونې لاندې ویده شوی و او څادر یې په مخ خور کړی و. یو وخت یې پښې درد شروع کړی و چې ګوري نو سپي ورته ولاړ و، اموخته سپي په ده هم د مړي ګومان کړی و.

***

**د مرګ په خوله کې،**

غالبا د دویم ټولګي زده کوونکی وم. له دوه کلني جلا وطنۍ وروسته تازه د ښوونځي په رخصتیو کې کلي ته راغلی وم. زموږ د یواځینۍ عمه ( خدای دې وبخښي) کور ولسوالۍ ته نږدې دی. سپینه خاوره یې بولي. د خوړ له غاړې ورته نرۍ لاره پورته شوې. په دې لاره به سنځلو او ګلابو کاسې کاسې عطرونه شیندل. موږ همدې کور کې وو چې د ولسوالۍ د فتحې لپاره جګړه شروع شوه.

سپکو او درنو وسلو د سکروټو باران جوړ کړی و. الوتکو هم شیبه په شیبه تېرونه خالي کول. هره لحظه مو د مرګ په انتظار تېریده. د ولسوالۍ مربوط د غره په سر یو منار دی. د امیرحبیب الله خان وخت کې جوړ شوی. دې کې پوسته وه او د همدې پوستې د نیولو لپاره قیامت جوړ و. زه له یوه همزولي کوربه سره بیرون ووتلم. یو ټیټ ختین دیوال و. موږ غوښتل اخوا وګورو چې څه کیسه ده. ټوپک په لاس د پوستې عکسر مخ په کلي راروان و. دا به تصادف و که قصدي، خو چې سرونه مو پورته کړل د مرمیو غر شو. ژر مو ټیټ کړل او څټونه مو د همدې ویشتل شوي دیوال له خاورو ډک شول.

***

**پښیمان جنګیالي،**

یو سرتیری و. شیرین نومیده، شاید اوس مړ وي. هغه وخت د ټولو وینه توده وه. عجیبه انقلابي تخلصونه و. ده بې چاره هم په همدې جذبه کې په ځان د شاخدار تخلص ایښی و او چې کله به یې له پوستې ډز کاوه، نو له هغه مخکې به یې وویل: درغله د شیرین شاخدار مرمۍ!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

دا سرې سپین ږیرې شوې و. خو ولړې د ارام په ځای مجبور کړې و چې کار وکړي. لس پنځلس کاله مخکې یې زموږ کلي کې ختې کولې. زموږ د یوه تره دیوال یې واهه. د ږیرې سپینو تارونو پسې یې خټه نښتې وه. چې غرمنی ته راښکته شو، نو ورته ویل مې: کاکا، دا رښتیا ده چې تا به له ډز کولو مخکې ویل: درغله د شیرین شاخدار مرمۍ؟
یوه ترخه موسکا یې وکړه او بیا یې ویل: پریږده یې. پخوانیو کیسو پسې مه ګرځه. یو وخت و او تېر شو.
په هغه ورځ موږ کره میلمانه راغلي وو. د ولسوالۍ په تیرو جګړو بحث کېده. په دوی کې یو داسې څوک هم و چې هغې جګړه کې یې برخه اخیستې وه. موسک شو او بیا یې ویل:

څه ناداني وه. شاژورونه به مو ډک کړل او په ولسوالۍ به مو ورمنډه کړه. اخوا به هم خپل خلک مړه شول او دیخوا هم.

اوس هماغه خلک یوو. یو بل سره روغبړ کوو. چاي څښو او...

***

پاس د هماغي بار بار جګړه ځپلي ولسوالۍ تازه تصویر دی. څو شپې وړاندې پرې بیا جګړه وه. جګړه کې بازار اور اخیستی و او د غریبو خلکو څو هټۍ یې لوټپه کړې وې.

**خدای خبر،**

په دې ولسوالۍ به نور څومره جنګونه وشي، نوري څومره ترخې کیسې به راتلونکې نسل ته پریږدي، نوري څومره زړه بوږنوونکې خاطرې به وزیږوي او...

لا خو جګړه په تول شدت روانه ده، لا خو د خپلمنځي قتال جذبه په اوج کې ده، لا خو له تېر څخه د عبرت اخیستلو عقل ته تور او غټ قلفونه پراته دي او لا خو...

۱۴۰۰/ چنګاښ/ ۸

نعمان دوست


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ